# دسرور کائنات(ص) یادونه

## په پښتوکي د(ې) تلفظ

محترموورڼو! ددې کتاب دصحي ويلو دپاره يوشرط سته، هغه داچي په پښتو کي د (ې) تلفظ اوآواز پر پنځه قسمه دی نولکه څرنګه چي د(ې) په تلفظ او آواز کي فرق لري، دغه رنګ په خپل شکل اوليکنه کي هم فرق لري، خومتاء سفانه نن ورځ ډېرليکو نکي ددغه فرق مراعت نه کوي، نو ځکه ولوستونکي ته په ويلو کي تکليف پېښيږي، تر څو يوه جمله دوه درې واره تکرار نه کي، ترهغوېې صحي نه سي ويلای خوپه دغه کتاب کي د(ې) دتلفظ يا آواز سره سم د(ې) دصحي شکل دليکلو مراعت سوی دی که دلوستونکو دطرفه دکتاب دلوستلو په وخت کي د(ې) دخپل ليکل سوي شکل اوحاله سره سم دتلفظ مراعت وسي ،ولوستونکوته دکتاب دويلو په وخت کي هيڅ تکليف اومشکل نه پېښيږي اودهري جملې په مقصد ډېرژرپوهيږي

اوس به د(ې)پنځه اقسام په تفصيل سره دروښول سي لکه څرنګه چي مخکي وويل سول په پښتوکي (ې) پر پنځه قسمه ليکل کيږي اودهرقسم آوازدهغه بل ډول څخه فرق لري هغه داسي

اول قسم(ي) دوه ټکي څنګ پرڅنګ لري

دوهم قسم(ې) دوه ټکي سرپرسر لري

دريم قسم (ئ) ټکي نلري خوهمزه پرسرلري

څلرم قسم(ى) نه ټکي لري نه همزه لري خوپه آخرکي لکۍ لري

پنځم قسم (ى) نه ټکي لري اونه همزه اونه لکۍ لري

اوددغه مختلفو(ې) ګانوبېل بېل آوازونه دي ،چي تفصيل يې په لاندي ډول سره دی

اول ،هغه (ي) چي دوه څنګ پرڅنګ ټکي لري تلفظ يې داسي دی لکه

Ketabton.com



شاعر : حاجي عبدالکبير (حسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

غوړي ، کالي، غوايي، سړي، بنګړي، اوداسي نور

دوهم هغه (ې) چي دوه ټکي سرپرسر لري، تلفظ يې داسي دی لکه

شیدې ـ مستې ـ پښې ـ خوږې ـ اوږدې ـ پایڅې ـ اوداسي نور    دريم هغه (ئ) چي ټکي نلري خو پر سر همزه لري، تلفظ يې داسي دی لکه ،سړئ ـمنګئ ـ لړګئ ـ سوټئ ـ اوداسي نوردغه (ئ) دمذکرد پاره کارول کيږی

څلورم، هغه (ی) چي نه ټکي لري نه همزه لري خو په آخرکي لکۍ لري، تلفظ يې داسي دی لکه هګۍ ،هیلۍ ، غالۍ ، خولۍ ، شړۍ ،لکۍ، نرۍ ، اوداسي نور

دغه (ی) دمؤنث اومفرد دپاره ده

پنځم، هغه (ی) چي نه ټکي لري نه همزه لري نه لکۍ لري، تلفظ يې داسي دی هغه سپین دی ،داترموز دی ، دارنګ ژړدی ، سهاردی ، اوداسي نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## بِسمِ اللّٰهِ الرحمٰن الرحیم

محترمو ورونوموړمسلمانان وجناب حضرت مُحمد (ص) ته سرور کائنات اوسرور عالم وایو، چي په ساده اوښکاره ژبه سره ددغه القابو مقصد اومطلب، مفهوم اومعنٰي دټولي دنیا سردار دی خواصلاً دسرور کائنات اوسرورعالم ترجمه دټولي دنیا قائد ، رهبر ، اولار ښوونکې ده، په ظاهره دالوی لقب اولوی خطاب دی، مګر کوم چا ته چي دغه لقب ورکول سوی، دی دهغه کار نامې واقعاً داسي دي ،چي دهغه دپاره دغه لقب مبالغه نه بلکه عین حقیقت دی، تاسو ښه متوجه سئ ویوچاته دټولي دنیاد قائد اورهبر دلقب ورکولو دپاره څلور شرطونه په کار دي ، که ددغه شرطونوڅخه یونه وي موجود نوهغه چاته هیڅکله سرورکائنات یاسرورعالم نه سی ویل کېدلای .

تر ټولو اول شرط دادی چي هغه چا به دکوم خاص قوم ،خاص نسل، یاکمي خاصي طبقې، دآرامۍ اوسکون دپاره کار نه وي کړی، بلکه دټولي دنیا دانسانانو دخوښۍ اوآرامۍ له پاره به یې زحمت ایستلي وي . هو دیوه وطن پرسته، یا قوم پرسته، قائد اورهبر په دې سبب اوحیثیت سره ،چي دخپل قوم یا خپل وطن دپاره یې ډېرلوی خدمتونه کړي دي، څونه چي دي زړه غواړي قدراوعزت یې وکه، مګر که ته دهغه دقوم یادهغه دوطن څخه نه یې نوهغه ستادپاره په هیڅ حال کي قائد ، ، اورهبرنه سي کېدلای هر هغه څوك چي دهغه خدمت ،محبت، خیرخواهي ،اوکارنامې دچین دپاره وي نودیوه هندوستاني یامصري دهغه سره څه تعلق اورابطه سته،چي هغه دي دځان قائد اورهنما وبولي دده دپاره یې څه کړیدي؟

بلکه که هغه قائد دخپل قوم دلوړوالي اوښه میعشت دپاره یوبل قوم خوار کړی اوذلیله کړی وي نومعلومه خبره ده چي دغه نور قومونه دهغه څخه نفرت هم کوي اوپه بده سترګه ورته ګوري .دټولوقومونوانسانان هغه وخت یوشخص دخپل قائد ،رهبر،اوسردار په صفت سره مني ،چي دد غه شخص په نظر ټول قومونه اوملتونه

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

انسانانااووطنونه یوډول وي ، اودئ دټولودپاره یوقسم خېرخواغوښتونکی وي اوپه دغه خپله خېرخواهي اوخدمت کي یوه ته تربل هیڅ قسم ترجیح اوفضیلت ورنه کړی دټولي دُنیا دسردار اورهنما کېدلو دپاره دوهم شرط دادی ، چي هغه رهبرداسي اُصول اوقوانین منځ ته راوړی چي دټولي دُنیادانسانانو رهنمایي اورهبري کوي اوپه هغه کي به دانساني ژوند دټولومهمو مسئلوحل موجودوي ،دقائداورهبرمعنٰي رهنمااولارښوونکی دی وقائد اورهبر ته ددې دپاره ضرورت سته چي هغه وخلګوته دکامیابۍ اوبهترۍ لارورونبیي، نوځکه دټولي دُنیا قائد هغه څوك کېدلای سی،چي دټولي دُنیا وانسانانو ته داسي لاري چاري وروښیي چي په هغه کي دټولوانسانانو دپاره کامیابي اوبهتري موجوده ویدټولي دُنیا دقائد اورهبرکېدلودپاره دریم حتمي اولازمي شرط دادی چي دهغه لارښووني به دیوه خاص وخت اوخاصي زمانې دپاره نه وي ،بلکه په هرعصر اوهره زمانه کي به یوقسم فایده مني اوګټوری وي اوپه هروخت کي به صحح ،دمتابعت اوپیروۍ وړاولایقي وي که دکوم رهبر،قائد ، ،لارښوني په یوه وخت کي ګټوري وي، خوپه بل وخت اوزمانه کي بېکاره اوبې فایدې وي ،بیا هم وهغه ته ددُنیاقائد اورهبر نسي ویل کېدلای. د دُنیاقائد اورهبر هغه څوك کېدلای سي ـ ترکومه وخته چي دُنیا قایمه اوموجوده وي دهغه قائد اورهبر لارښووني به ګټوري وی ـ بیاهم دټولي دنیا درهبر اوقائد کېدولو دپاره څلرم مهم شرط دادی چي دغه قا ئد به یوازي داصولو اوقوانینو پر وړاندي کولو اکتفاء نه وي کړې ،بلکه هغه وړاندي کړی قوانین به یې دخلګو په ژوند کي عملاَ جاري کړي هم وي ،اود خپلوقوانینوپراساس یوه ویښه اوکامیابه جامعه اوټولنه په وجودراوړې وي . هغه څوك چي یوازي اصول اوقوانین وړاندي کوي اودعمل جامه نه په واغوندي ،هغه ته فقط یومفکرویلای سو هغه هیڅکله قائداورهبر نه سي کېدلای . دقائد اورهبر کېدلو دپاره داحتمي اوضروري ده چي هغه خپل وړاندي کړو اصولواوقوانینو ته عملي جامه وراغوندي ،اودُنیا ته به یې ورښکاره کوي ، یاپه بل عبارت خپل قوانین به دصحي

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

نتیجې سره په عملي شکل سره ښکاره کوي اوس نو راسي چې موږ اوتاسي وګورو چې دغه ځلورم شرط په هغه ذات کي ترکمه حده موجودوه اوموجوددي چې موږ وهغه ته سرورکائنات یاسروري عالم (ص) وایو ..اول هغه اولنۍ شرط راواخله ،تاسي دجناب محمد مصطفٰي (ص) ژوند اوسیرت مطالعه اوترنظر وباسي ، په یوه نظر به دادرته معلومه سي چې درسول الله (ص) ژوند دیوه قوم پرست یا محب وطن ،ژوندنه دي ،بلکه دیوه محب انسانیت، دیوې جهاني نظریې ،اودیوه جهاني قانون ایښوونکي انسان ژونددی دجناب رسول الله (ص) په نظر ټول انسانان یوقسم وه ،دکوم خاندان دکمي طبقې دکوم قوم دکوم نسل یادکوم خاص ملك یاوطن سره دهغه(ص) دلچسپي یادزړه علایق نه وموجود ، امیر اوغریب ،لوړ اوکښته ، توراوسپین، عرب اوعجم،شرقي اوغربي ،دغه ټولوته یې په یوه داسي نظراوحیثیت سره کتل ،چې دغه ټوله دانساني نسل افراد دي، درسول الله (ص) دژبي څخه په ټول عمر یوداسي لفظ ،یایوه داسي جمله نه ده راوتلې ،اونه یې په ټول عمر داسي یوکار کړي دي چې دهغې وینا ،یادهغه کار څخه دي داسي یوه شُبهه پیداسي چې ده(ص) دیوې خاصي انساني طبقې دګټې اومصلحت سره ډېره علاقه درلودل نوپه همدې سبب درسول الله (ص) په ژوند کي دحبشۍ اوایراني ، رومي اومصري ،حتٰي یهودي اونصراني په داسي ډول دده(ص) دکار اودعوت ملګري سوه ، لکه عرب چې یې ملګري وه

او دده (ص) تر حلت ورسته دمځکي په هرکونج کي دهرنسل اوهرقوم دانسانانورسول الله (ص) دخپلو ځانودپاره پرهغه قسم قائداورهبروباله ، لکه دد (ص) قوم چې دې خپل قائد اوخپل رهبر باله ،دادهغه خالص انسانیت اثر اوکرشمه ده چې نن ورځ دیوه هندوستاني یاافغاني څخه نه ، بلکه دهرقوم اوهرملت داشخاصوڅخه دهغه ذات تعریف اوتصیف اورو چې په سلهاوو کلونه پخوا په یوه عربي ملك کي پیداسوي وو دټولوانسانانو دپاره وو، دده (ص) اُصول اوقوانین دانسانیت مشترك میراث دی ، چې په هغه کي دیوچاحق دبل چاتر حق کم یا زیات نه دي،اوهر څوك چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

وغـواړي ددغـه میـراث څخـه کـافي فایـده اخسـتلای سـي جنـاب رسـول الله (ص) زمـا اوسـتا دلار ښـووني دپـاره راغلـي دي اوډېـر زیـات زحمتونـه اوتکلیفونـه یـې ګـاللي دي دپـاره ددې چـې مااوتـا دآبـدي عـذاب اوددوزخ داوره خـلاص کـي ،خوافسـوس زرافسـوس زه اوتـه دغـه لارښـووني نـه قبلـوو دشـیطان متابعـت درسـول الله (ص) ترمتابعت خوښوو اوددوږخ پـراور پـه رڼوسـترګوورځغلو، ګرانولوستونکودمضـمون د پیراخه کېدوله ویري خپـل قلـم راکنټرولـوم ،کـه چیـري موږاوتاسـي دجنـاب رسـول الله ( ص ) دمبارك ژوند پرهراړخ وینـا یالیکـل وکړونوموږټول بـه سـترې سـواو قلمونـه بـه مـو وچ شي مګردده مبـارك ( ص ) مبـارك صـفتونه بـه خلاص نشـي کـوم څلـور صـفتونه چـي پـاس ذکرسـول هغـه ټول دده مبـارك ( ص ) صـفات اومعجـزې دي نوڅکـه مـوږ وجنـاب محمدرسـول الله ( ص ) سـروري کائنـات (ص) وایـو. الٰهـي تـه زمـااودټول امـت اوددې کتاب دلوستونکو او اورېدونکو ستادمبارك رسول (ص) محبت اومتابعت پـه نصـیب راکړې الٰهي ،توفیق راکړې چي ستاددین دنشرولوو دپاره پـه ځـان اومـال سـره کوښـښ وکو، آمین یارب العالمین

وصلی الله تعالی علي خیرخلقهِ محمد وآلهِ واصحابهِ اجمعین

ستاسي ددوعا محتاج (حاجي عبدالکبیر( حسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسروري کائنات(ص) یادونه

کله چي ما د ښاغلي حاجي عبدالکبیر (حُسنیار) دسروري کائناتو دیادونو شعري مجموعه دمطالعي په سپا ه باندي وشنله نودا راته معلومه سول چي دده دسیني د ژوندون پراتم بهار دشعر په پخولوباندي شروع کړ ي ده اویقیناً ده دشعر په خانقا کښي داستقلال روح دفصاحت په قنا دیلوکي ستایلي دي اودجنت منظري یې دبلاغت په لطا ئفوکي نغښتي دي دحُسن ډېوه یې دسلاست په قوافلو کي روښانه کړېده اودعشق نشه یې دتصویر په ضمائروکي هڅولي ده خوځان یې دمیني په اورباندي لولپه کړیدي بیایې دوصلت وغیږي ته وردانګلي دي اوسمدستي یې پر زړه باندي دحُسن طوفانونه راغلي دي بیایې په هره ساه کي دعشق خواږه دردونه تاوسویدي اودمیفروش په مستو رابطومبتلاسویدي په اخرکي یې دحقیقي یاردقرباني په خاطر دمحبت په انګړ کي وځان ته کور غوره کړ چي همدا اوس په همدغه کور کي دحال په مرض ګرفتاردي اوبیله دحال له پیره څخه یې بل کوم شیخ اوطبیب په علاج نه پوهیږي خدای(ج) دی پخپله لارکښي عمر طویل اوپرهمدغه حقاني اشعارو توفیق ورته ورکړي

قاري محمد طاهر ((ناتوان))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## حمد

په هرڅه کي دي وينم په هرلوری رابنکارې
ځان ته نظر وکړم که جهان ته فيکروکړم
ټول ستا دقدرت لاس دی زيبا هرڅه جوړ سوي
دستوروپه ښکلاکي آسمان ته فيکروکړم
دالمردي لوی مخلوک دی په لوړعجزتابع دی
نه وروسته ځي نه وړاندي يوآن ته فيکروکړم
دهــروطن مخلـوق دي جـلاجـلا رنګ کـړی
دا لــو يه کارخانه ده انســان ته فـيکروکـړم
يـوخت بـه داسي راسي داهرڅه به فاني وي
بـاقـي به يـوالله(ج) وي قـرآن ته فيکـر وکـړم
اتلس زره قومه به حاضرکې خپل حضورته
دخوف رجاپه منځ کي ميزان ته فيکر وکړم
ثــناوايــم اِلٰهي چــي تادحُسنيار کــــړم
په تاباندي مي نازدی ستا شان ته فيکروکړم

دروژي دېرشم مابنام دشفی ځلوربجي
۱۸ \ ۲ \ ۱۳۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## حمد

ژاړوبــه الله لره    خپل غني مولالره
هــغــه بادشـاه لره
اللّهُ صمد دی خــدایج کــفواً احــد دی خدایج
لـــم یلدولـــم یــولد ،پاك الله واحد دی خدای ج
څه به وړوعقبالره ، خپل غني مولالره
رحمٰن اورحیم رب دی ،لاشریك عظیم رب دی
فضل به دده غواړو،  زموږ خالق کریم رب دی
حتماً حشرګاه لره ، خپل غني مولالره
مثقال زرةٍ حســاب ، زموږڅه کړي هغه وهاب
سـل چنده مو بد ترښه ،څه به کړو درب جــواب
نسته هیڅ سبالره ، خپل غني مولالره
مـــــاخلقتُ الجن انسان ،الا کړه پیدا سبحان
خـــاص دعــبادت دپــاره ، نه تــوکلتُ غیران
څه ښایي ومالره ،خپل غني مولالره
خدایــه ګناه ګاریـــــمه ، شرمنده بسیاریمه
فضــــل پرعبدالکــــبیر ،وکړه حُسنیاریمه
نه ځم وبلي خوالره ،خپل غني مولالره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رڼادمديني

شـــا ه دمديني      پېشوادمديني
دزړه پرسر مي نقش دی اغادمديني
نسيم دمـــــديني له لـــوري راغـــي غــــزل وای
شيدادمديني      احمدا دمديني
دزړه پـــه هـــر غـــورځنگ کـي راسره دی زما قريب
رڼـا دمديني      مصطفٰي دمديني
ثـنا وايـــم الله تـــه چـــي پــه فيض يـــي منور يـم
زيبادمديني      رهنما دمديني
وخدای ته وا سطه مي محمد(ص) دخدای حبيب دی
دوادمديني      شـفا دمديني
مـين يـــي حُـسنياريم هـــزار ځـــله دي تـــر جـار سم
صبا دمديني      سعيدا دمديني

۶۸ \ ۱۱ \ ۱۳۸۸

کندهار زموږ کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څښتن تعالا(ج)

موږعا شقان یوتل داستا ن دمحبت خوښوو
چې مینه اورو مینه وایو دا صحبت خوښوو
موږلـــــه هغومکړې خـــالقه چي جانان هیروي
څښتن تعلا ســـتا دحبیب سره الفت خوښوو
مینه دحق ده چي عاشق ترخپل معشوق کي فدا
دصحابـــه وداُحد عـــــلا غیرت خوښوو
زړ ونه پــــه مینه کـــي ودې مقام ته ورسېدل
سرنذرانه روح صدقه دعشق خصلت خوښوو
زمــوږحُسنیا ر زړه بېله میني څه زغملای نسي
دمیني زهـــر دجـــهان تر هر شربت خوښوو
۲۸\ ۶ \۱۳۹۰
دشپې لس نیمي بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد رهبر دی

محمد رهبر دی پــه نبیا نو کي سر دار دی
خدای حبیب بللی گرا ن دخپل اُمت غمخوار دی
نه لري ثا ني په مخلو قا تو کي سلطان دی
نوم يې محمد پر عرش ليکلی په ښه شان دی
ډ ك په صفتو يې نا زل کړی خدای قرآن دی
دُر او مرجا ن هر حديث دپا ك نبي گفتا ر دی
شـاه په مـــد ينه کي دی اما م دقبلتينو دی
نــور دحق له نو ر ه دی پا ك جد دحسنينو دی
تاج يې دمعراج ورکړ ی سردار ددو کونينودی
لمر يې پر اسما ن با ندي له رويه شغلدار دی
چـــا چـــي دحبيب پـرقدم ايښی خپل قدم دی
سوی پر هغه شخص دا لله پا ك لوی کرم دی
پاتي شر يعت مو ږ ته څرا غ دکل عا لم دی
سِـــر دطريقت يې پر مو من زړه معلوم دار دی
پوسه ای مو مينه دا دنيا دسود او زيان ځای دی
د دا بـــدي ژوندون د کټيي اوتا وان ځای دی
دلته د ي د وړخ جنت هـــردم دامتحان ځای دی
څير اوسه شيطان دايمان غل دي بيدار دی

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

خدایه واسطه مي ستا حضور ته ستا حبیب دی
د رو د سلام پر و ایم احمدا زموږ طبیب دی
شـــاه د مد ینې الله را کړی ښه نصیب دی
ویارم حُسنیار چي په اُمت کي یې شمار دی

۲۰\۸\ ۱۳۸۷
کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما نصیب

یـــا محمدمصطفیٰ ، تـــرتـــا دي سمه فـــدا
تاسو حبیب ، زمانصیب ، زماقریب ، زما آغا
زه یم غلام تل مدام ستا پرنام مي ژوندونه
هـزارسلام په هرگام خپل گلفام مي سکونه
نسته‌آرام مي بې تا ، یوخوارفقیریم شیدا
راکه دیدار ، یوکرار ، سوم بیمار ، بېله تا
یـا اَولین اخرین یې امین مُحمَد ه
لـرې معراج سـوې سراج دکونینوآحمده
دامـــــا مینوجده ، دحسنینوجـــده
پرالله گران ، مهربان، قدردان، زموږپېشوا
دمـدیني لـوړ جناب مخ گلاب راخـــرگند که
دعشق په باب زړه غرقاب په شتاب راپیوندکه
گل یې سرداري عا لم ، تل یې غمخواري عالم
سـر دعـــرب ، وعـــجم ، مـــحترم ، خیرخـــوا
ستا حُسنیار دي قربان سي تر تا زما صنمه
وکه نظریم محتاج بې تا مرمه له‌غمه
ســتا پـــه‌صحبت مي آرام ، ستا په‌صفت مي آرام
جـــارسـم تــر، تــا زمــاآغا ، زما دزړه ، یــې دوا
۴\۱۱\۱ ۱۳۸۵

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## شاه دمديني

شاه دمديني ته ځم ، دحبيب روضې ته ځم
صدهزاردرودسلام ، پــاکي تجلې ته ځم
شاه ته به زه څه وروړم ، زړه به يوتحفه وروړم
سر به نذ رانه وروړم ، دعشق وډيوې ته ځم
شاه مي هاشمي جانان ګران پرلوی باري جانان
نــه لــري ثاني جانان ، خپلې واسطې ته ځم
وشود وصال ز يری داڅنګه دخيال زيری
ښکلي بې مثال زيری ، دخدای وبيتې ته ځم
ني لرم قيــمت الله ، ســتاديونعمت الله
ستا فضل رحمت الله ، غواړم ستاکعبې ته ځم
غواړم ټول امت خدايه ، ستاڅه په قيامت خدايه
غرق ستاپه رحمت خدايه ، داسي عريضې ته ځم
فضــل پــر ما خواروسو ، کــرم دبـاداروســـو
ښادسو حُسنيار فقــيرحقــې فــريضــې ته ځم
۱۳۸۶
دروژې شلم مابنامدشپې څلور بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تـو رکـچکـول

چه فقیر دي دخپل درکـــړم مهربانه
تورکچکول راپیما نه کړه لوی سلطانه

پردرباردي هرطالب مطلب حاصل کړ
مـــاهم بنادکـــه یارحیمه یـــارحما نه

یوحجاب چي موترمنځ دی هغه دورکه
حُسنیاریـــم وصل غـــواړمه سبحانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سرور کائنات(ص) یادونه

## حُسن ستادی

هسي نسته په جهان کي حسن ستادی
د اسمان روښانه لمر پر تاشــــیدادی
ستا له رویه یې خدا یي خپله اظهارکړه
صفت کړی په قران کــــــي دي الله دی
هم یې جوړکړې له خپل نوره هم یې وصل
ستا مقام په ټول عالم کي بل دچا دی
او لــین او آخــــیرن عزت یې در کړی
پاس دعرش پرکنــــګر دي نوم زیبادی
چـــي ا بلیـــس دي ونامه ته کم کتله
خدای خراب کی آبدي اور یې سزادی
حُســـنیار به بې تـــا څه وي لـــوړ جنابه
ستا غلام دی ستا مر یی ترتا فدادی

دروژي دېرشم ماښام دشپې څلوربجې
۱۱\۴\۱۳۸۴

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خیروالبشره

محمد گل سردار زموږ غمخوار دی په محشره
خیروالبشره
نبي حبیب دسبحان دی شفیع په ورځ دمیزان دی
پرخپل امت مهربان دی
نـازلـري زمــوږ نبي ها شمي دوست داکبره
لري معراج معتبر دی دټول نبیا نو افسر دی
دخدای په نور منور دی
مصطفٰي زمــوږ پیشوادی و الله حق زموږرهبره
څلور یاران دجناب دي هر یو افتاب او مهتاب دي
دګران په عشق کي غرقا ب دي
مینا ن عــاشــقـان فدایان جار تر دلبره
حضرت صدیق مهربان دی حضرت عمر قهرمان دی
عثمان جامع دقرآن دی
ا زلـــي وو سخي فیض لــري علي حیدره
ستا حُسنیار ستا فدادی ستا یوغلا م دی ګدادی
پر خرا سان په ژړادی
ستا دیدار ستاګفتار زما قرار زمادزړه سره

۲۰ \۱۱ \۱۳۸۵

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## سرداري مدينه

محمد جا نانه سرداري مدينه
ترتادي سم قربا نه سرداري مدينه
يـــا احمده يــاحبيبه ياخــاتم الانبيا
حبيب د سبحا نه سرداري مدينه
نـــوريې دالله اکبر شپه دي رڼا کړېده
يانبي سلطا نه سرداري مدينه
لاّ الـــهَ الاالله مُـحـمد رسـو الله
نور يې د رحمانه سرداري مدينه
تاج يې دوصلت درکړی نوريې ډيرعزت درکړی
پرلوی خدای قدردانه سرداري مدينه
يـــا سـراج الـمرسلين يا طٰهٰ و يايٰس
اُمت يوړی طوفانه سرداري مدينه
يا مُجيبُ سوال کوم فقير حُسنيار يمه
وصل مي که گرانه سرداري مدينه

دروژې لسم مابنام دشپې څلوربجې
۱۳۸۴\۷\۲۳

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شفاعت

یا الٰهي درحمت دي اُمید وار یم
یا غفا ره گنهکا ر یم گنهکار یم
زما گناه ستا تر رحمته پوري څه ده
بې چاره یم ستا د فضل انتظار یم
شفاعت ستا دحبیب په نصیب راکه
یو ملنگ ستا دنا مه یم حسنیار یم

۱۸\۸\۱۳۸۴
کندهار ارغنداب خواجه ملك رود

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

هر خيا ل مي دصنم دی

د ېوانه سوم دېــوانه په ارمان دمدينې
دورود وايم سلام پر خپل جا نا ن د مد ينې
زړه ژاړي ستر ګي ژاړي روح مي ژاړي ديدن غو اړي
هر ياد مي سينه سوځي په هر آن دمدينې
هــــر ياد مي دصنم دي هره ساه مي غزل وا يې
دزړه بلبل مي تل وايې داستا ن دمدينې
الــحمدُ لله شــکرچـــي پــه مــــينه کــي يــې ګير يم
پاك رب ته واسطه مي دي سلطان دمدينې
محبوب عـــاشُـــق الله دی دالله ورســـره مـينه ده
دخدای په نور روښانه دی بوستان دمدينې
نــظر تــه يـــې محتاج يم بې نظره بې سم خا وري
نظر يې حُسنيار کړمه حق خوان دمدينې

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




صبح دم ســو پر کعبه اوري آنوار
عا شقا ن ترېنه تا وېړي بې شمار
سل و شل انواره شب وروز پر اوُري
شل انوار ه يې دي صرف پر يو ديدار
شپېته نور يې دطواف خلګو ته وقف
دا څلوېښت يې دقرآن پاك پر تكرار
كه توران دي كه سپينا ن تول پر شيدا دي
عا جزې هم ورته ژاړي بې اختيار
محمد به پر ې طواف په شفقت كړي
د ا لله وو و رته امر په دې كا ر
د لوى فضل دالله چي يې وصل كړم
په ليد وسرې حا جي سو حُسنيار

كعبه شريفه
۲\۱۱۰\۱۳۸۶


شاعر : حاجي عبدالكبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




محمد ه تـــر نا مه دي سم قر با نه
مد ینه دي ده په نور سره روښانه
ســـتا په روی ســـره معاف بابا آدم سو
چي اظها ر سوې ودنیا ته ورك ستم سو
هجر ولاړی بها ر سوټول گلستا نه
لا الـــه الا اللهُ پیغام دي را و ړی
حـق رهــــــبره دالله کلام دي راوړی
مــنور ټوله کـفارسوه په ایمانه
اولـــین اوآخــــریـن یې پاك حبیبه
نـازنـین اوبهتـرین مـــو یې قـــریبه
احمدایې سـعیدا یـې شـا جهانه
درو دســـلام وایم پر تا ستا حُسنیار یم
چـــي واصل دي کـړم اغا شکر گذار یم
بـــیل مي نکړې له خپل ځانه مهربانه
مدینه منوره
۱۶\۱۰\۱۳۸۶

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## دپاك حبيب حضور

قاصده يو سه سلا مو نه  زما دګران حبيب حضور ته
آ ه وو پر يا د سوي آهونه  زما دګران حبيب حضور ته

و منور معشوق تــه يو سه د عشا قو سلا م
باب السلام ته چي دا خل سې کوه ډېر احترام
په ډېرآدب پيش که عرضونه زما دګران حبيب حضورته

اول حضور ته ور پېشيرږي دسر دا ري عالم
دا د کـــو نينو سر دار خير البشر دي محترم
هلته اظها ر که زموږ مرادونه زما دګران حبيب حضورته

دوهم روضه ده دحضر تِ صديق يار اولين
جناب امير المؤمنين لرِي مقا م بهترين
کول يې ستر ستر خدمتونه  زما دګران حبيب حضور ته

دريــم مقا م دی دعـــا دل حضر ت عمر قهرمان
خدای وربخښلی شجاعت دی دوهم ياردجانان
عادل کول عادل کارونه  زما دګران حبيب حضورته

حضرت عثما ن صاحب دی پر وت پر جنة البا قيه
خد ای نا ز و لی ذالنو ر ين پر کړي خدای ده صلِه
جمعه کول يې آيا تو نه  زما دګران حبيب حضورته

حضرت علي مو قبله ګا دی دحَسن او حُسين
مبارك جد يې مصطفٰي دی با ندي ګران امامين

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

دفا طمې دزړه گلــونه     زما دگران حبیب حضورته
ستا حُسنیا ر دی ارما نجن  د کند هار پر لمن
ایږ د ي  گلـو نه د صفت  ستا  د ا شعار پر لمن
لري پر زړه دعشق دا غو نه  زما دگران حبیب حضور ته

۳۰۱۲۱۱۳۸۷
کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## مهربان خدای(ج)

څرنگ ښا یسته لرې جا نا ن خدایه
ز ه د ي پر مین کړم مهربان خدایه
تا سو يې لـه رويـه کـړه دنيا پـــيدا
تا سو يې له رو يه کړه عقبا پیدا
تا سو له خپل نوره کړی روښان خدایه
یا د کړی مو په نه نوي نومو نو دی
ټول قران يې ډك په صفتو نو دی
انجل اوپه تورات کې دی عیان خدایه
نو ر د ی ستا له نوره منور حبیب
تا کلی موساقې دی دکوثر حبیب
تاج دي دمعراج ورکړی سبحان خدایه
ستا له لوی درباره څه عطا غواړم
تــــول ا مت بخښلی د اغا غواړم
نه لر ي ثا ني پر کل جها ن خدایه
ویاړم حُسنیار چې يې کلام لیکم
نوم دګران حبیب په احترام لیکم
جار ستا تر رسول سم په هر آن خدایه

۱۴ \ ۶ \ ۱۳۸۷
دروژې ځلرم ما ښا م دشپې ځلور بجې

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




شمع بلیږي یوعــــاشق دعشق داستان لیکي
شاه مد ني  محبوب د ځا ن اودسبحان لیکي
شمعه بلیږي یوعاشق پرنیمه شپه یادوي
دروداوسـلام ورباندي وایی مدینه   یادوي
اوردمحبت یې محمد پردل وجـــان لیکي
چي ستر ګي پټې له جهانه کم جـانان وینمه
مـــــراقـــبه پـناه یې قلب کوم سلطان وینمه
شاعرشاعر خیالات مي بیانوی دیوان لیکي
هغه چي لمردشنه اسمان دی ستا په روی منور
ترشرق اوغربه کل جهان دی ستا په بوی معطر
شاهدقرآن دی ستاصفت رحیم رحمٰن لیکي
ترښایستو سترګودي جار سم دخـــوبانومـــیره
دخدای حبیب یې ز ما قریب  دمرســــــلانومـــیره
ستوري دي نوم په ښکلي نقش پراسمان لیکي
یوخوار غلام چي حُسنیار سو سـراسرد ستاصیله
چي مـــشرف ستاپه دیـدارسـودطریقت ثـــمر ه
خوشحال دعصر په رسوا داسي اعلان لیکي

دروژی لسم ماښام دشپې خلوربجې
۹۱۶۱۱۳۸۸

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## روښان لمر

هغه رنګ چې زما د ګران دی   درست جهان ورته پیکه دی
تــــول ښکلا ورتــه عاجزه   هـــــرجانان ورته پیکه دی
چې یوسف یې له ښایسته الهام اخلي نوښایسته دی
پرزمــــین واړه ګـــــلونه   هربوســـتان ورته پیکه دی
هرڅوک وایي زماجانان دی زماجانان نوردسبحان دی
مــنور هســـي بل نــــسته   لــمر روښان ورته پیکه دی
داسمان سپینه سپوږمۍ یې دحضور په سلام راغله
هــــــرنبي په ده نازیږي         کهکشان ورته پیکه دی
رّب پیداکی له خپل نوره هم یې تاج وردمعراج کړی
محمّد پــرعـــرش لیـــکلی   عـــرش کــلان ورته پیکه دی
خدای دخپل محبوب دمیني جام زما په نصیب راکړی
پرســـرتاج دحُـــسنیاردی   هـــر سلطان ورته پیکه دی

دروژې پنځلسم ماښام دشپې څلورپجې
۱۶\ ۶ \ ۱۳۸۸

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعشق رهبر

زړه مي مين پرمصطفي سو
الله الله شاهـــــد پر مـــــا سو
نه مي هيريږي جناب شاه دګلانو ګلاب
په هره ساٌکي مي اشـــنا سو
هادوصال خـيالـونه وختل تول خوبونه
دخوب رويانو مــــــيرزماسو
صاحب سرداري عالم زمادزړه سومل هم
قلب مي په قلب دګران پنا سو
چي تل يي وينم روښان حبيب مي نوردسبحان
ښکلی نصيب په نصيب زماسو
فضل هــروخت دبادار غـوارم بــيابـيا حُسنيار
دعــشق رهبر زماپــيشوا ســو

دروژي دروی‌شتم ماښام دشپي څلوربجي
۲۲\۶\۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کیمیا

دهغه چــي دقــدم خــاوره کــیمیا وي
نوبې یار دحُسن څه وي خدای خبر دی
چي دنیا یې له خاطره څه اظها رسوه
پــرعقــبا باندي شــفیع دی مــعتبردی
مُحبت دپاك حبیب چي چاپري ایښي
دهــغواخــرانجام ته لــوی خطردی
بشــکلی نــوم یې پرعرش نقش جلوداره
خدای جوړکړی پرنا مه باندی کوثردی
هم حبیب دی هم طبیب دی زمانصــیب دی
باغ دحــُسن یې جــنت دی معطر دی
که د درست جهان اوبه دقلم رنګ کړم
لاباقي بې وي صفت خیرالبشردی
حُسنیار ترهسي یار زر ځــله جار شه
ګل پیشوادی زموږغم خواردی حق رهبردی

دروژي ځلورویشتم ماښام دشپې ځلوربجي
۲۵ \۶ \۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## محبوب

دي تــرون تـــــــه کـوم نظرلــرې زاهده
خدای وماته محبوب کړي خپل پېشوادی
ماهم زړه ترهغه دووسترګوقربان کړی
چـــي لـیدلــی يې ديدار دپاک مولا دی
داچي زما دروح غذا له هغه زړه سوه
داپاک زړه مي دحبيب نور دمـــولادی
په اويــاشالويي نور دجمال پټ کړی
لاپټ نـدی درست جهان يه ګل زيبادی
لوړ عـاشق ملاحسن صاحب سِروايي
زماپه چارو ناخبره شـــــــــيخ مولادی
هسي حُسن يې بل نسته په مخلوق کي
حُسنيار يې پر هغه حُسن شـــيدادی

دروژي پينځويشتم ماښام دشپې خلوربجې
۲۴\۶\۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زماکلمه طیبه

یـــامحمد محمد ســـتاپـــرنام نام
زمـــــا کلمه طیبه تل مــــــدام دام

دخدای (ج) رسوله دخدای حبیب یې
رب تـــه مــقبولــــه درب قـــریب یې
حـــق دې اصولــــه درنځ طبیب یې
مـــرحبا جاردې تر نام یم غلام لام

خدای دربخښلی حـــوض کـــوثردی
پـــرعـرش دې نقش نـــوم معتبر دی
خاص ستا له رویه لوړشمس قمردی
دلـــولاك تاج دې سِراج ګلفام فام

معـــراج دې حـــق دی ســـرمرسلینه
صفت دې زیـــب کړي طٰهٰ یٰس نـــــه
لـــــقـــب دې وړی دی دامــــــــینه
لـــوړمعـــزز خدای درکـــړمقام قام

تـــر تـــا دې جـــــارســـم نبي سر اره
مــــاخـــــوار قبول که پرخپل درباره
عبـــدالکبیریـــم ســــخت ګــنهګاره
ستا حُسنیاریم بې تایم ناکام کام

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




مـرحـبا دخـوبانــوسَرتاجه
مبارك دي رخساردی سِراجه
تجلیٍ دي دنورځي ترعـــرشه
عـرش دي دی وقدم لره فرشه
دهمه وورنځـونـوعـــلاجه
مخ روښان دي له رويه څه لمردي
ستاحضـورمقـدم مـــنوردي
پـرنامـه دي کوثر اومعراجه
ستاحضورچي ظاهرسو رڼـاسوه
دکسرا خدايان ټـول پـوپناسوه
لاالــه الاالله دیــن رواجـه
اولیــن آخــریــن پیغمبردی
محمد مصطفٰي حق رهبر دی
نقش پرزړه مي دميني مزاجه
حُسنيار شـرمنده ګنهګاریم
تــرمخلوق بدترينه بدکاریم
پرمېزان مي که خلاص دخراجه

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## شاهان دطولي پيران

پــه توروغــروکي يې دربارديفيض لري پيران
شاهان دطولي پيران
په توروغروکي يې دربارد ی ورځي شاه وګدا
لنګريې پوردسخا
داکامـــــلان ګل صاحبان نقشبندي پــــيران
په توروغروکي دشاهانوزيارتونه دي
دفيض جامونه دي
کـــــوتلي پاچ په رنګينه دی نوراني پيران
په توروغرو کي ښايسته تالارشغله لري
پتهٔ نشه لري
دنـــا ستي ځـــــای دنـــازولـــوازلـــي پيران
په توروغروکي دسيابندحضرت شاه مولوي
لري قلبي خوشحا لي
حــق نازولـــي نـــازنين کرامـــاتي پيران
په توروغروکي حُسنيارسودخوبانووصل
دکا ملانووصل
مراديې حاصل سوالله ورکړله سخي پيران


شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




زموږ پیر کا مله پیر دی    موږ خواران ترو تازه یو
انـــوار را باندي اوري    مـــــر یدان ترو تا زه یو
له ډېرو خلګو بېل یو    په مینه کي را ښکیل یو
مطلب مـــو پاك الله دی    عـــا شقان تـرو تا زه یو
صحبت مو دحبیب دی    عجب ښه مــونصیب دی
په مینه د جانا ن خپل    مینا ن ترو تازه یو
ســــردار د مدیني دی    ژوندون مو د سیني دی
څراغ مو د مجلس دی    پتنګا ن تروتازه یو
په ورځ دحشر ګا کي شفا عت به مو اغا کي
دکو ثرجام به عطاکي    جنتیان تروتازه یو
کا مل پیر دسیابند دی یوغلام یې حُسنیاریم
لوي فضل دمولا دی    بیما ران تروتا ز ه یو

۴ ۱۱ ۱۳۸۴
دجمعې ورځ کند ها ر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## انوار با ندي اور يريږي

دتو رو غرو پيران دي تجلي يې پور ته کيږي
انوار با ندي اوريږي
سيابند  يې ځله ولی دی روښا نه معلو ميږي
انوار باندي اوريږي
دخـــدای لـــوړ نـــا زولـــی دي لري لوړ مقا مونه
چليږي يې نا زونه
شاه غوث آما ن الله صا حب دين ته کړي خدمتو نه
گا للي تکليفونه
دخدای فضل پر سوی دی لنگر يې تل چليږي
شاه غوث ولي اُلله صاحب يې فرزند ځراغ روښان دی
دطـــر يقت بوستان دی
کامـــل او مکمل دشـــــــريعت پـــــرلار روان دی
شاه غوثي زمان دی
جد يې امام آلمر سلين ناز يې قبليږي
حضرت شاه مولوي صاحب سلطا ن دسلطا نا نو دی
شاه غوث دغوثا نودی
پـــير نقشبندي صا حب سلـــطان دعـــريفا نـــو دی
اولاد داما ما نودی
لنگر يې خرابات دی دسوالگير په داد رسيږي
شاه غوث بها والدين صاحب شهيد کی شورويانو

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

دپاك دين دښمنا نو
قــــر بــان ســو پرقرآن با ندي سراج دساليکا نو
رهبر دمريدا نو
رهبر مو پر عقبا دی شفا عت ده دو ی قبليږي
سلطان دی زما حبيب دی زيږ غلام يم لوړاميردی
شاه غوث عبدالقدير دی
اولاد دکـــامـــلا نـــــو دي جناب کامــله پير دی
نيولي مي ځنځير دی
تر جار دي حُسنيا رسي که يوه دوعا مي قبليږي

سيابند کابل کندها ر
۶\۶\۱۳۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## شاه دسیابند

شاه مو لوي صا حب سلطا نه
شاه دسیابــند پــــیري پیرانه
په ډېرآدب احترام سلام سلام نــاژنین
سلام قبول که زما ستا یم غلام ناز نین
سپېره کچکول خوار یم نا توانه
شاه ده پیرا نو پیره یو ه عریضه لرمه
راغلم تر تا آمــــره یوه نا ر ه لرمه
خواست مي په باب کي دایمانه
ښا د په رحمت دالله تاته فقیر راغلم
رسوا په هر قدم کي په دام کي گیر راغلم
را با ند ي چور سول غماز انه
خدای مرتبه در کړي پر خدای دي ناز چلیږي
شــــاه ازلي بر خوردار ناز دي هر راز چلیږي
جد دي نبي ا خر ز ما نه
ستا حُسنیا ر په زا ری ستا تر درگا راغلم
قبول مي که درخواستي خوار په ژړا راغلم
وصل مي که تر خپل جانانه

دسیابند زیارتونه
۴ \ ۵ \ ۱۳۸۵

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## دعشق جال

بیا د طو لي د خوا شما ل را غلی
زړه ته مي څه رنګین وصا ل راغلی
تجلي را غللې د شاه مولوي
روح ته مي روح د استقلال راغلی
وینم تا لار شریف انوار پر اوري
څه سنګین کیف دعلمِ حا ل راغلي
عصر رنګین کي دجا نا ن را بطو
حا ضر حضور په نو م دخیا ل راغلی
لـــطیفي وا ړه د الله پــه ذ کــــــر
اوجود مي قید دعشق په جا ل راغلی
چـــي حُســـنیا ر یيږ سو غلا م دحضور
هلته راسته مي دبخت پال راغلی

کندها ر دصوفي صاحب زیا رت


شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## شاهي خوبان

پيرلرم جا نا ن لرم    حضرت صا حب سلطا ن لرم
شا ه شا هي خو با ن لرم

شـــاه د ی شـــرا فت لري  خو ل د غو ثيت لري
پير ز مـــــو ږخوارا نو دی    ر حـــم شفقت لري
گران او مهر بان لرم    حضرت صاحب سلطا ن لرم

پلا ر نيکه يې وه غو ثا ن    دا خا ندا ن تو ل پيرا ن
دا د شريعت خلـــگ      د ا د طر يقت ز لميا ن
گرا ن پرخدای د ستان لرم حضرت صاحب سلطا ن لرم

شا هي مو لو ي صا حب    غوث دی دطولي صا حب
جد ز ما د پا ك مر شد      بنا د دی ازلي صا حب
ځا ن ور ته قر با ن لرم   حضر ت صا حب سلطا ن لرم

و يا ړم حُسنيا ر يمه      دعشق دتاج تاجدا ر يمه
حـــمد د ي و ي الله لره      خپل الله ته جا ر يمه
گوهر اومر جا ن لرم    حضرت صا حب سلطا ن لرم

سيا بند زيا رتو نه
۱۱\۵\ ۱۳۸۵

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور كائنات(ص) يادونه

## صد رحمت

لوړجنا به د سيا بند سلا م قبول كه
صد رحمت دي وي پر تا لوړ شخصيته
زرخواران دي له دربا ره څه شا ها ن سول
فقيري يې سول بدل په سلطنته
حُـــسنيا ر نا چـــيز بند ه غلام قبول كه
چي هجران يې سي بدل ستا په وصلته

ورځ چها شنبې ما ذديگر سيا بندزيارتونه
١١\ ٥\ ١٣٨٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## شهزاده گان

په شا طو لي کي دوه پيران دي گلان دزړه تر سر را باندي گران دي گلان
دا دسيا بند شهزا ده گان دي گلان په شا طولي کي دوه پيران دي گلان

پـــلا ر يې وو شـا با بکو جان محترم
جد يې ووشا غو ث محمد جا ن محترم
ووســـــرحـــلقه يـــي عــريفان محترم
پـــه بُخا را کي بند را يل و گو ری
هـــم شـــر يعت هـــم تر يقت لر ي
هـــم مُعر يفت هم سخا وت لري
دا نا ز ولی دسبحا ن دي گلان په شا طولي کي دوه پيران دي گلان

حــاجي حضرت صا حب جنا ب نا زنين
پـــــه فيو ضا تو کي غر قا ب نا زنين
سپين يې رخسا ردی تـــر محتا ب نا زنين
دخـــدای آنـــوار دي بـــا ندي اوري مدام
د هـــــر مخلص ســره اُلفت لري گران
پـــر مينا نـــو شفقت لـــري گرا ن
پر مُريدا نو مهر با ن دي گلان په شا طولي کي دوه پيران دي گلان

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

حا جي ا غا صا حب فـر زن دی دشاه
شاه نیظام جان صاحب يې دی قبله گاه
پلار ا و نیکه یـې ا و د وخت اولیا
داخـــاندان ټــوله دوستا ن دي دخدای
پـــه ر شتیا ټو ل کـــرا ما تونه لري
و هـــــــر مخلص لر ه جا مو نه لر ي
په حقیقت کي فیض رسان دي گلان په شاطولي کي دوه پیران دي گلان
ا لـــــهي شـــکر چي ا یما ن لر مه
ر هبـــر نبي ا خـــر ز ما ن لر مه
دخدای دوستا ن زه خپل دوستا ن لرمه
حمد او ثـــنا دي وي غـــــــني بـاداره
پـــــه غلا مـــي يې حُسنیار کړمه
د ز ړه پـــه مینه يې سر د ا ر کړمه
داخو ب ر و یا ن دادلبران دي گلان په شاطولي کي دوه پیران دي گلان



شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## پرجهان معلومدار

دسيا بندپير دي دي امير نازبرداردی
دوست دبادادردی
حضرت صاحب کامل پير ما يې نيولي ځنځير
محترم پاك دی پاك خاندان دده
کامـل ولـــي دی بابکوجان  دده
وينم سلطان پرجــهان معـلومــدار دی
ورکـــړی خــدای دی دولايت تاج
پرسريې پروت دی دغوثيت تــاج
نــازيې چــليرې قــبليرې رويــداردی
وايـــم مـــدام  مدام صدرحمتونه
پـــرهـــزاروارہ خـــپل ســلامــونه
پيردی کامل مکمل شغلدار دی
شــاه نقشبند پيره نظردي غــوارم
شاه دسيابند پيره نظردي غــوارم
زيې غلام يم مدام دی سرداردی

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

عبدالکبیر یې غلام همېش یــــم
وخدمتوته یې هـــردم ورپېش یـم
دده خادم ورتسلیم حُسنیــاردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نقشبندي پيران

څليږي لکه لمريه کل جهان کي سيابندي پيران
ګل نقشبندي پيران
راغلي دي دهندوستانه شاامان الله صاحب
دي ولي اُللهٰ صاحب
رب دی نازولي داکامل فاني في الله صاحب
ګران دی پرمولاصاحب
معلوم تولي دنيا ته چي دوي دي کراماتي پيران
فـرزنديې دربنيمه کامل شاه ولي اُللهٰ غوث
شاه ووپردنيا غوث
شـاه دنقشبنددبـاغ رنګين ګل ووزيباغوث
دوسـت وودالله غوث
تـولـه کامـلان دي پرغني خدای ناز لـري پيران
شاه هي مولي صاحب دی غوث محمدسلطان دی
ګران پرپاك سبـحان دی
بنـکاره پـه دنـيا کـي دسـتـګيري دوجهان دی
لمرغوندي روښان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

ســر حــلقه يي عــريــفان اهــلي جزبي پيران
حضرت بها الدين محبوب درب العالمين دی
مقام يې لوړ ترين دی
دخدای فضل پرسوی دخدای دوست نازنين دی
لوړ شيخ علاترين دی
شريعت وطريقت چلوي دواړه عمرني پيران
پاته جای نشين يې اوس پرزند عبدالقدير اغا
ډيردی لوړاميراغا
رب ورکړی لــــوړ مقام داصله دی لوړ پير اغا
حُسنيار نقشبندي منم تــول پر فاني پيران
ګل نقشبندي پيران

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

زمانصیب

کامـــل پیر دسیابند دالله نـــازبرداردی
آزلي برخوردار حضرت صاحب رویداردی
کامل پیر نازنین تاج اوتخت یې سنګین
شـــریعت طـــــریقت بـــولي تـــل بهـــترین
دالله په دادښاد ګران پرخپل کرد ګاردی
خدای ورکړی مقام پاك لقب یې امین دی
نازنین مـــاه پروین مخ روښانه سیمین دی
تجلي ځنـــي ځـــي مبارك یې رخسار دی
کامـــل پیر لوړ امیر مستانه یې درباردی
پـــاك لـــنګرخـــرابات دمخلصو بازاردی
پرراتول مُریدان ځای دفیض وانواردی
کامـــل پیر لوړجناب رهنما زماحبیب دی
زماقریب زمانصیب زماعلاج زماطبیب دی
خاص غلام ددرګا ه پرمین حُسنیاردی

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




خود په نازېږم په خوبانوکي سلطان دی
حضـرت صاحب مي دزړګي تـوان دی
خود په نازېږمه کامل پیردسیابنددی
زمـــــاپیر معزز مـــــقام بلـــند دی
پرمسله نا ست دحضرت شا ه نقشبنددی
دبــــــابـــــکوجان صاحب فرزند دی
پلار يې حاجي بهاالدین با بکوجان دی
خـــود په نازېږم واسطه مي ده الله ته
پـــــــــــــردې لار ورځـــم ومصفٰي ته
دریاب دفیض دی ژاړم دي دوست دمولاته
مـــــــــلنګ يـې يـم پــاکي درګا ته
مــايـې بايللي پــرچشمانـودل وجان دی
خــود پــه نــازېــږمــه الله ورکړی تاج دی
کــــامــل مـــکمل ددین سِراج دی
دعمروسخت رنځور تې يوديدن عـلاج دی
زړګــی مــي دتـــه هــروخت محـتاج دی

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

دشــریعت اوطــریقت بها ربوستان دی
خـــود پـــه نـازیـږمه دفیضاتودریاب دی
نـــــصیب مي شــکر کامــل جــناب دی
ماتې راکړی خدای پر یودیدن ثــواب دی
زماپیري کـــــــامل دوست دوهاب دی
غلام یې یمه حُسنیار دامي پیمان دی

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور كائنات(ص) يادونه




نـــــــــظر دي غواړمه اميره
شـــصيپاه نقشبند كـــــامله پـيره
دخوږوزړو يې عـلاج دهرغمويې علاج
تـــوجـــهُ وكــــــــه بـــېنظيره
په ولايت سره ښاد ستا خاندان دى اباد
جهـــان لـــيدلـــى دى تـــاثيره
ســـتا درحمت توجهُ ستـــا دالفت تـــوجـــهُ
وكـــــه پرموږتهول يوزهيره
غلام دى يم ددرګا زه حُسنيار دي فدا
پريږ به دي نږدمه ځـنځيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## دحق آواز

قلندر **لعل** په تور شهباز دی
دنیالیدلي یې ډېرډېر کراماتو نه *دحق آواز دی
راغی شاګرد دربابي سو*هلته خادم بې مزدوري سو
غوښتی یوه ورځ یې د ده درباب سازدی
یوه ورځ ولاړه وسحراته * ګوره ده دي پیرکیراماته
دډېره شـــوقه لمبه سوی دا جانبازدی
ربابي هلته سوبې هوشه * دالهي فیوضات دجوشه
په مرواریروکي ښکاره کړي یې پټ رازدی
دولایت تاج یې پر سردی *نازنین دوست دپاك اکبردی
پرباری ګران دی قبول کړی یې هرنازدی
بندپه کچکول کي سمندرکی *په خپل طا قت یې باخبرکی
په طریقت اوشریعت کي دی اوستاذدی
زه حُسنیار نقشبندي یم * شاکیر دهر پیر اوو لي یم
په خاروهلی مي همېش ظالم غمازدی

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## سا قي جا نانه

سا قي جا نا نه مهر با نه خما ري را غلم
ستا نيك نظر وو چي له غيبو وا پسي راغلم
په خا لي لا س ستا يو غلام ستا تر درگا راغلم
زخمي وجــود طبيبه ستا په تمنا را غلم
چـــا ره مي نه وه زمـا قـــراره چي تر تا راغلم
زه يم نــا دان ته مــهر بان په عـا جزي راغلم
دغه احسا ن دي سم قربان چي بيا دعوت راکوې
پر مورږ عـاجزو مـهربان سې خپل وصلت راکوې
پــر سـلو بـد و لو ږ جـنا بـه شفقت را کـوې
ناچيز غلا م دي دحضور په سلا مي را غلم
غلا م به څه ورکي با دار ته غلام تل وي محتاج
يو مـيـن زړه مي د ربـخنبلی ستا دميني په باج
داسـي خـــــويـو نه هـميشه وي دعـشاقـو رواج
سر نذرا نه روح صد قه په دې راضي راغلم
ستا حُسنيا رچي وي بې تا نو حُسنيا ر کله دی
خـال لـه جبينه چي جلا وي شـغـلـه دار کلـه دی
جـنت بې يـاره څه کـــومه زمـا په کا رکله دی
سپيره کچکو ل اه وو فريا د تا ته سوالي راغلم

دسيا بند لار سر مشکا ن

۴ \ ۵ \ \ ۱۳۸۵

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## زه اوسا قی

که را ته خیري کې ګرېوا ن زا هد ه
سا قي مي دی دین او ایمان زاهده
تل بې چارچو ب دخا نقا مچوم
دغه مي دي عهد و پیما ن زا هده
دنیمو شپو نشې عـا دت لر مه
خوښ په شرابو مي ګریوان زاهده
مـا ورتـه سر په نذرا نه ورکـړی
په پښېما نۍ کې مي تا وان زاهده
زه او سـاقـي لـرو بېحده مـینه
جُدا مـو کله کیـږي تـوان زاهـده
زه حُسنیار یم دجـانان دحضور
ته وکـــړېږه په هجـرا ن زاهـده

سیا بند زیارتونه دشپې یوه نیمه بجه
۶ \ ۵ \ ۱۳۸۵

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

د شاه فــقـیر

مــیني مي وړی صبر وتوان له خپله ځانه سره
دخیا ل زانگو ده پکښې ټال یم دجانانه سره

دیار پر دریم دیار نو کر یـــــم
شمع بلیږي داغ داغ ځیگر یم
ســر بـاز پتنگ یم ســر با زم د دِل وجانه سره

خُوش بـوي دزلـفو مـي پـه دمـــاغ کي
زړه مي سور گل دی دعشق په با غ کي
روح مي بو را گرځي دحُسن دبو ستانه سره

غمازان سوځي زه همنشین یم دیار
په زلفو پټ یم خال دجبـین یم دیار
د تـورو ستر گو مجلسي یم دهر آنه سره

دحُسن جام دي زما په نصیب دي
عشق مي انجام گلروخ حبیب دي
مل خرا بات متصرف دی زما نا توانه سره

حُسـن یي یـار کړم په زولفو گیر یم
مـفلس مـلنگ یم دشا فقـیر یم
شا کښېنولي یم پر ځنگ د دسترخوانه سره

کندهار ذا کر شریف
۱۵\۲۱\ 0
1

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




جا نا نه ښایسته   بادامي سترګي راواړه وه
زړګی مي سولمبه با دا مي ستر ګي راواړه وه
بې وا که مي دي ستر ګي جا نا نه تا ته ګوري
په عشق دي يم بسته بادامي ستر ګي را واړه وه
ستا میني قلندر کړم دغماز سره مي جنګ دی
رسوا په یا را نه    با دا مي ستر ګي راواړه وه
نظر دي دچشمانو  د ز ړه وجو د نشه کړي
دمـیني خـزانه  با دا مي ستر ګي را واړه وه
مین دي يم ملنګ دي يم کچکول درورړم حضور ته
ګدایم شهزاده  بادامي سترګي راواړه وه
تـرتا دي سپلنی سـم نو چا تـه حُسنیا ریـــم
بې تا لرم نور څه با دا مي ستر ګي را وا ړه وه

سیا بند زیا رتونه
۳ \ ۵\ ۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## تشنه لب

ساقي ستا وحضور ته توبه ګار راغلی یم
جواب دي هیرومه اُمـــــید وار راغــلی یم
ژوندی مي لطیفي که دوصال په مستومیو
ګدا یمه سلطا نـه بـیاخمار راغلی یـم
ز رجا مه دي تر خوا دي دټولو خوندجلادي
زر واره اُمـیدوار یم خواراوزار راغلی یم
حلقه دغلامي می راتر غو ړ که چي درویش سم
قـبول مي نذرانه که تـر تا جار راغـلی یم
مـین یـم چـولاویـمه دمـیني جـام عـطا کـه
سور لبه تشنه لب یم حُسنیار راغلی یم

کا بل مکرویان سي
۲۳ \ ۹ \ ۱۳۸۲


شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## خرا بات جام

مــرحـبا خرا با ت جـام فــروشـــه
یـــوه پــیا لـه دي له کو ثره عـنایت که
په تلخي مي دشرا بو ستو ني خو ږ که
پـه سـینه کي مي جاري خـپل قـرا بت که
قـلب اوروح مي په فیـو ضا تو منورکه
زیري پاى مي دښمنان په هر ساعت که
چي ازل یـا ري دحُـسن نصیـب و ر کړه
حُسنیار دي مړ په غـیږ کـي دوصلت که

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

گل بشره

نه وينم ثا ني دي په کا بل کي گل بشره      زما دزړگي سره
وسومه لمبه سوم ستا په مينه کي دلبره      زما دزړگي سره
کيف دمحبت دي نن ايستلی يم له حاله
صبر بې گا نه دی وړی تا مي دي هرخيا له
گلشن راته آنگار دی تنها سوځم مسافره      زما دزړگي سره
جدا يمه تنها يمه داور پر سر مي ژونددی
گلونه دي گلزارسته راځه هېر دتولوخونددی
شيرين دميني جام دي را موړ کړی دی ځيگره   زما دزړگي سره
زه ستا په يا دکي سوځم ته هم زما په ياد سوځېږې
معلو مه مي پر ز ړ ه د ه ته بې ماکله صبرېږې
گلونه دي و غاړي ته دروړ مه ناز پروره      زما دزړگي سره
نظر سوستا دحُسن ياريې جوړ عبدالکبيرکی
په مينه دي اخته کي په زولفا نوکي دي گير کي
آزل شُعې ورکړي ستا په عشق کي دي افسره  زمادزړگي سره

کا بل مکرويان سې
۲ \ ۹ \ ۱۳۸۲

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## دميني سمندر

گـرېوان ته مي داوښکو سيلا بونه ولاړه ولاړه
آسمـان په سوځـل کيږي فر يادونه ولاړه ولاړه
دشېخ او دطبيب په وس کي نسته زما علاج
دحا ل مرض راپېښ دی درملونه و لاړه ولاړه
دميني سمندرمي نن دزړه کښتۍ کړه غر قه
سيني ته مي دحُسن طوفا نونه و لا ړه ولاړه
په هره سا کي تاومي سول دعشق خواږه دردونه
مريد دمئ فروش سوم نور ذکرونه ولاړه ولاړه
منکر چي سو دميني او وعدې څخه نا صحه
د و ږخ ته دشيخا نو قطا رونه و لا ړه ولاړه
قيا مت مي په خوب وليدی هورې لا حُسنياروم
بې پوښتني وجنت ته مين زړونه ولاړه ولاړه
۵ \ ۱ \ ۱۳۸۳

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## د عشق تلقين

اوستاذ تلقين دعشق په باب راکړی
جـانان دميني ســــور گلاب راکړی
سوي عريضې مې دعمرونودسخط
خال يې الـف مخ يې کــتاب راکړی
حاشيــې دزولــفو يې کـــول بحثونه
ول منصور څه سنگين جواب راکړی
دځوانۍ جوش ووسوم ويارته نژدې
هم يې ديدارهم يې ثـــواب راکړی
نـازنـــين حُـسـن لکه لمــــرشغله دار
توان دليدويې پاك وهـاب راکړی
حُـسن يې يار کـــرم په اول مــلاقات
زړه يې په مينه کې غرقاب راکړی

دروژې دوه ويشتم ماښام
۳ \ ۸ \ ۱۳۸۴

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## دميني دحسابه

جنا بــه محترمه دعُشاقو د زړو تا به    مين دي يم ښتا به
وجودمي سره لمبه که یوجام راکه دشرابه    د مــيني د حســابه
پر دردي سر وهمه له چا رچو به خماري یم    دعشق دجام سوالي یم
ښايست دي بې مثاله دي مين دي آزلي یم    غــلام يمـه را زي يــم
دحُسن لوړ مقا مه ليري که دمــخ نــيقا به    دمــيني دحســابه
دحُسن وشغلې ته مي در پرېږده مستا نه یم    پـتنگ یم پروانه یم
پـه مـينه مي کـباب کـه نـن راغـلي نذرا نه يم    وتـا تـه صدقـه يــم
قولو نه دسبا پرېږده زه نن یم په عذابه    دمــيني دحســابه
دنيا به شا ته پرېږدم ددیدن دي ملنگي کوم    تـل دي غـلامي کـوم
سربه ترتاجارکړم په ریشتيا دي اشنائ کوم    دميني نــوکري کوم
دعشق نشې لر مه څه حاجت دميو نا به    دمــيني دحســابه
بې تا به مي ژوندڅه وي نازنينه حُــسنيــاريــم ژوندی ستا پـه دیـداریم زړه ستا سو
روح مي ستاسوستارضا ته اتظاریم    ايــشارت وکـــه تـياريم
که سل ځله ژوندی سم نذرانه دي يم جنا به    دمــيني دحســابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




مین دي یم جانانه پر چشما نو خمارو
وهلي دي پر زړه یم دمژګا نو په نېزو
مو من چي دشیدو وم لاستا میني وم سوځلی
دعشقه مي ژړ له مور به کړم للوللو
اتم کال ته چي ولاړم سینې جوش وکړی شاعر سوم
روسواسوه پته مینه زما اوستا پر وطنو
غزل مي هره ساه سوه درباب غیرږي ته و لاړه
رباب پر رقص راغلی سور دمیني پرنغمو
ښایسته یې رنګینه یې هزاران دي شیدایان دي
یو دي حُسنیار دي غرق دمیني په نشو

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه




بـيتـاب سومـه ساقي يـو جام دشراب راکه
دحُـسن ډيوه بله کـه زخـمي دِل کـباب ر اکه
حضورته مي درپيش که دميني نذرانه يم
دعشق جلاده راسه صنم ته صدقه يــــم
دزولفودار ته خيژم ټول ژوند مي حباب راکه
ميخور وم دازله چي ستا پر در اظهار سوم
دنياته چي ظاهر سوم په تا پسی بيمارسوم
بې تا سوم نا عــلاجـه ديـدن دي جناب راکه
زاهـده هيـڅ مـه وايـه مـنزل مـي خرابات دی
جنت مي دبابا کور ازل مي خرابـات دی
که مـرمـه ودې مـرمـه دمـيني کـتاب راکــه
تـر تـا دي سـپلنی سـم نـو چـا تـه حُسنيار يـم
خاکروب دي ددربار يم ملنگ يم أُميدوار يم
بې تا مي څه چا ره ده ديدار او ثواب را که


۱۱\ ۷\ ۱۳۸۴

در وژې پنځم ما ښام دشفې څلور بجې

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




پرســـر تاج دجانان لکه لمر خوندکوي
عاشقان یې خاص ویني دلبرخوندکوي

څه به ویني یوړوند سپین رخسار دجانان زما
پرتیاره دهجران سپین سحر خوندکوي

یـــونـظردجــــانـــان دجنـت مــــــنظرې دي
جنتیان په خبر جام کوثـــــر خوندکوي


چــــــــي تول عمر دي خپل په عشق غرق کړي
داسي کیف داسي خیال دانظر خوندکوي

حُســـــــــنیار دزلفانو په جال کي پټ خال دي
دزلفـــانو یې بوی دعـــنبر خوندکوي

دروژې پنځلسم ماښام دشپې ځلوربجې
۲۶\ ۷\ ۱۳۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




راغله نظر ته رابطه راغله
دشپې په غېږکي تجله راغله
نورباندي اوري دحبيب له نوره
دڅوارلسم سپوږمۍ ښايسته راغله
زړه مي خوشحاله سومستي يې وکړه
زخمي وجود ته يې د مه راغله
قيص دزمان سومه ليلا مي ژوندون
مينه په ژوند کي مي اسره راغله
څوك چي دلبر لري نو غم څه لري
ولوړ مقام ته واسطه راغله
چي حُسنيار يې کي غلام دحضور
دغمازانوورخ چپه راغله

دروژي پنځويشتم ماښام دشپې څلوربجې
۶ \ ۸ \ ۱۳۸۴

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه

## جامونه

برايي ساقي ويشل دعشق جامونه
بد نصيبه زاهد ولاړ له پره ووت
نقصاني سودعمروهستي يې بايلل
چي يې دار دمحبت له سره ووت
حُسنيار چي ځان دعشق پراور ايره کړی
ددنيا اودعقبا له شره ووت

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

لمبې

يار وړي دي فکرونه دیادونوســـلسلې دي　　　مستي رابطې دي
دښایست دباغ ګلونه دمین زړه خاطرې دي　　　مستي رابطې دي
سرې لبي دي میخوري هوسۍ سترګي قاتلي
زولفاني عنبري يې پر اوږوخورې ورې دي　　　مستي رابطې دي
لـمبې دمحبت دي را تـاو مي تر صورت دي
دشمعي غوندي سوځم چشماني فوارې دي　　　مستي رابطې دي
ا و ل اوآخـــير د و ا ړه راســمه کې بـاداره
الهي فضل غواړم دازل څه فیصلې دي　　　مستي رابطې دي
په مینه کي مي کـوردي دمیني ژوندون اوردي
نصيب دحُسنيار اوس دوصال ښکلي ډېوې دي　　　مستي رابطې دي


شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## اخلاص

کله دومره اخلاص ډېرسي ځان ويارته قرباني کړم
کله زره غبارکي لاندي پرتېرصدق پــښېماني کړم
کله ځــان ويــــنم په څنگ کي دجنت دښکلو حورو
کله دومره ملامت سم ځان په خپله دوږخـــــي کړم
داغيارسره په جنګ کي گاهي سوک خورم گاهي لغته
کله کله يې راغوځارکړم ځان په دې ظالم خوني کړم
کله شېخ سم په خلوت کي سجدې اوږدې اوږدې کړم
کله دومره رندانه سم وساقي ته مهـــماني کړم
کـــــــله ســـرورورړم لـــه جوشه دزلفانو وداروته
کله مست سم قلندرسم کچکول واخلم فقيري کړم
کله وصل سم ويارته سند دعشق مي طوفاني سي
تر دوږخ جنت ورتېرسم هر څه يارته قرباني کړم
کله حُسنيار درويش سم يوکچکول اويوبهلول سم
مراقب سم داعمالو زندگي خــاص بندگي کړم


کندهار
٢٥\٨\١٣٨٧



شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




چي مي په زړه اور لګوي ښـــــايسته جانان دی        مهربان دی
زړه مـــي ورکـړی په رضادی  مـاشــاالله ګل یارزمــــادی
پـــه خـــوبرویانوکـــي افـــسردی قــــدردان دی        مهربان دی
په محبت یـــي افـتخار کړم   مـــینه ګـناه نـه ده اقـــرارکړم
دهري  ساه آهنګ مي ستادعشق داســـتان دی        مهربان دی
قسم په خداي مینه مي ژوندی بي میني نورپه څه کي خوندی
دزړه وروح وژبـــي هـــــــــرکلام دګـــــران دی        مهربان دی
محبوب زما حُسن بي شان لري  په شمیر دستوروعاشقان لري
یو حُسنیار عبدالکبیر یي پـــــر جـــــها ن دی        مهربان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) يادونه




ســتاديدارگل     ستاگفتارگل     زړيې زماډېرخوښوي
ستارخسارگل   ستا کـــــردارگل   زړيې زماډېرخوښوي
ســتا سره مي مينه ده    ســــتاياري شــيرينه ده
ســتاپه مينه پايــمه    داخبــره ســــــــپينه ده
ســتاديدارگل     ستاگفتارگل     زړيې زماډېرخوښوي
ســتا ددرفقـيـريمه    ستـــاپه زلفو گيــريمه
ژوندمي ستاپرنام دي تړول ستادعشق فقيريمه
ســتاديدارگل     ستاگفتارگل     زړيې زماډېرخوښوي
زړه و روح مي ستا صنم    يم پــرتاشـــيدا صنم
ستادقدم خــاوري يم    نـــه يـــم دبـــل چـا صنم
ســتاديدارگل     ستاگفتارگل     زړيې زماډېرخوښوي
تـاچي حُسنيارکـړم خپـــل خال دي درخسارکړم خپل
نـــوره دنـيا څــه کـــوم    سربه ترتاجــارکــــــړم خپل
ســتاديدارگل     ستاگفتارگل     زړيې زماډېرخوښوي

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور كائنات(ص) يادونه




هسي ولــــي پــه دنيا كــي خوار اوزاريم
داځكه چي افغان يم چي افغان يم
دهــرچاترنوني لاندي دهرچاپردارپه داريم
داځكه چي افغان يم چي افغان يم
مځكه غركاڼي اوبوټي مي دتن په وينو سره دي
تــږي تــږي غليمان مــي لاپــه وينو اوبه نه دي
په سل نومه بلل كيږم دهر چا دسترګوخاريم
داځكه چي افغان يم چي افغان يم
پــه بمونــوبــربــادېږم په وطن كي مي اوربل دي
داظالم خوپردی ندي داخپل ورورمي راته غل دي
له خپل لاسه زه بربادیم دخپل ځانه څه ازاريم
داځكه چي افغان يم چي افغان يم
دپردولـــه وسه نده كه هرڅومره طاقت ورســــــي
ټول افغان كه سره يوسي درست جهان ته به خطرسي
سل پړانګان مي ځغله ولي سلونوروته تياريم
داځكه چي افغان يم چي افغان يم
په وجود كي مي اتم دی داجزبه مي دايمان ده
ږغ مـــي الله اكبردی زل زلــه پــر كفريستان ده

شاعر : حاجي عبدالكبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

دنــفاق لــه بــدبختیو ناارام پــرکندهاریم
داځکه چي افغان یم چي افغان یم
یـــومـــوخدای یـــومـــورسـول یـومو قـــران دی
لروبرافغان یوقام دی ټول یوځان دي یوصورت دی
جار رسول ته جارقران ته جارهیواد ته حُسنیاریم
داځکه چي افغان یم چي افغان یم

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه


## آثري نشه

خوندونه دي مزې دي دساقي په پیمانوکي
اثـــردی اونــشې دي دساقي په پیمانوکي
زاهد به دعمرو عبادت ورکي پریوجام
جنت دی اوروضې دي دساقي په پیمانوکي
ورځي به دمنصورغوندي رقصي ددارو سرته
دانلـــحق نــارې دي دساقي په پیمانوکي
دهجردښت زرغون کي دبهار په نرمه سا ه
ګلونه دي غونچې دي دساقي په پیمانوکي
مست کړي یې هزاروارہ هرخیال زه حُسنیاریم
غـــزل اوترانې دي دساقي په پیمانوکي

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




چي پرشپه دهجران ستادسپين رخسارځراغ سوبل
سوې دهجرتيارې ورکي شعله دارځراغ سوبل
هغه لار چي مستقيمه دآزل باغ اوبوستان ته
وه تاريکه ستادرويه پردې لارځراغ سوبل
په اظهار دي په بوستان کښي پرخزان راغلی بهار
غوټۍ ګل سوې دګلانو دګلزار ځراغ سوبل
چي دعوت دي عاشقان کړه ساقي ستا وميخانې ته
دفرقت بهار خزان سوحُسندار ځراغ سوبل
چي تصديق مي په آزل کي کړئ اقرارستا حُسنيار
جام دوصل مي دشونډودسنګار ځراغ سوبل

٢٥\٦\١٩٨٩
كراچي پاكستان

شاعر : حاجي عبدالكبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

دایــات دسپین قــــران پــــر کــاغز نقش
کــه دي لمر ته دخپل حُسن خط نقاب کي

تربېلتون د ثُنایاوودي قربان سم
دښــائسته دي ګــوهر غرق په دریـاب کي

حُسنیار دي دوصال پتمعه شمعه
په تودواښکو تـول خپـل اجود کبا ب کي

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## پټ سِر

نې لرم طاقت قسم په خدای حال ویل کیږي
پټ سِرپاشل کیږي
څوك پرلښه شاباندي دژرګوبارتړلای سي
څوك دقاضي مخ ته دشرابوجام چښلای سي
کله قاتل بحث دسرجلا ت سره کولای سي
هغه یومنصور ووچي ودارته هوسیږي
څوك به ځان پټنك کي چي وجودوروړی لمبولره
څوك لکه بوراد ګل په تمه ځي اغزولره
کله حلواخور مجنون وجود نسي چړولره
هغه یوخلیل ووچي په سره اورورګډیږي
څوك به په دوږخ کي له حراموتوبه ګارسي
څوك به په جنت کي وجنت ته اُمیدوار سي
څوك به دپاچادپاچهۍ څخه بېزارسي
داسي بایزید دي پرګنا خپل اقراریږي
داهم یوعاشق دی چي دعشق دباغ مېوې ګوري
داهم یوپټنك دی چي دشمعي سرې لمبې ګوري
داهم حُسنیاردی په کچکول کي دُوردانې ګوري
ځي عبدالکبیر کرار کرار مخته پېشیږي

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وعده

کـــــه ســـاقـي راسره وپالي ميثاق
وتـقـــوالـره بـــه ورکــمـــه طـــلاق
کې وعده پروعده راکړه ډك جامونه
جـوړ هـورې پـرميخانه بـــه کـم اوطاق
کـه دي يـواري دميني مـستي راکړه
ډکـــوم به دي دعـــشق پـــه بـحث اوراق
دحـــياخـــرقه بـه خــيرکم پرتن خپل
په سره اورکي مې ماشوم زړه سومحراق
عـبادت بـه دخپل ټول عمر پرورکړم
دعـــمروخـــه دشـــرابــو يـم مشتاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

کوثري جام

خـدایــه دانـظام ابـادکــې چــې یاران تروتا زه وي
هم صحبت وي هم فرصت وي عاشـقان تروتازه وي
دګـلزاربـنــــائــسته هــواوي خـــوږګــــفـتـار دبلبلانو
هـــربـــورابـــوخت په نڅاوي ســره ګلان تروتازه وي
دتـــقـــوا زولــــنـې پـــرې وي زاهـــدان جامونه غواړي
هـــم نشې هـــم تـماشــې وي میخواران تروتـازه وي
دآزل ســاقـــي وېــشلي وي جـــامـــونه دشــــرابـــــو
دکـــوثـــرشـــراب بخشش وي خماریان تروتازه وي
هرعاشق وخپل معشوق ته خپل تېرسوی داستان وایي
دهجـران دظلمه خـلاص وي واصـلان تروتازه وي
چـــې دحُسنیار زخمي زړه دخپل یار په وصل جوړوي
هــغه وخــت هغه زمان وي ټول زخمیان تروتازه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

راغلم خمار

ساقي مستانه راکه پيمانه
راغلم خمار راغلم مکوه راته بهانه

دپرهېز پيمانې مې چپه کړې
دعذاب اند ېښنې مې ايله کړې
په خپل لاس مې کړې پرې دتقوازولنې
خوښ مې ميخانه ساقي مستانه

دزاهد نصيحت به ټول هېر کړم
که دي يوار حضورته درتېر کړم
بيابه ستاد پاك در همېشه يم نوکر
ژوند مي نذرانه ساقي مستانه

ستادعشق دمستۍ که خبر سي
تېر زاهد به تر خپل مال وسرسي
دتقوا سپين لباس رنګ به کي په خپل لاس
کړي به يارانه ساقي مستانه

زما دحُسنيار مات که خمار ژر
همېشه کوم داسي اقرار ژر
په مذهب دساقي همېشه يم رازي
غوارم جانانه ساقي مستانه

شاعر : حاجي عبدالکبير (حُسنيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

دردمن یمه

ګل یــاره مــین یــمه زه ستا ارمانجن یمه
لاس راکه خوږمن یمه
زه ســـینه کـباب لـــرم ســـوي زړه بې تاب لرم
سورکوګل په وینوسور سورنګ په خوناب لرم
نظرکـــوه دردمن یمه زه ستا ارمانجن یمه
دمـــــــین اوازواوره یـــاره دایـــونـــازواوره
ته مي یې طلب مطلب دغــه مـــي پټ رازواوره
تــږی دديــدن یــمه زه ستا ارمانجن یمه
زړه مي ستا وصال غواړي وصل دشنه خال غواړي
نـــه کـوي ارام بې تـا تـل ستا سپین جمال غواړي
مړبه سم غمجن یمه زه ستا ارمانجن یمه
تـــــل ستـــاد درګاه ځنځیـــر نـسمه عـــــبدالکبیر
تـــــلای پـــر بـــله نسمه حُـسنیار پـــه زلـــفوګیر
تېر ترهر ګلشن یمه زه ستا ارمانجن یمه

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دميني اقرار

تــصديــقوم په صــداقــت ســره اقــرار دميني
کوم ګفتار دميني
که مي هجران ظالم پرزړه په خپل خنجر تل وهي
سينه مي سپر مخ ته نيولی ځم پر لار دميني
که په ظاهر دملنګۍ کچکول په څنګ ګر ځوم
دلبـــــرر ا ايښي دي پر تاج شغلدار دمـــيني
زه چــي دهجــر په روژه کي وچي شونډي ګر ځم
را به کي ماته روژه مات دوصل پار دميني
دميني ګل تــه مـــي دزړه بلبل پـه جـوش ګډيږي
ځکه زه حُسنيار ليکم خـوا ږه اشعار دمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه

## ستا دحُسن لمر

پـه اویـا شـا لــو کــي پټ یــې لاپټ نــدی
ســتا دحُسن لـمر جهـا ن پـــه غېږ کي واخست
ګلـعذار دي دتـــورخــط پـه ګلو زیب کړي
که دشپې سپوږمۍ اسمان په غېږ کي واخست
پـــه رحـېل کــي دي دورځــو خال کتاب دی
درس دعـــشق مـي دل وجان په غېږ کي واخست
چـي دشمـعي اوپـتنګ راز مـــي اشــــناســو
اور دمــیني مــي ټـول ځــان پـه غېږکي واخست
حُسنیار چي ځان تسلیم کی سر یې کښېښود
مــکا فــات یــې ســتادمـیني بوستان واخست


شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه




دلــبر چــي حُـسندار دی زه نه یم ملامت
زړه کــله پــه اخــتیاردی زه نه یم ملامت
ای شېخه تا دسروشونډودجام خوند څه لیدلي
تــرمــیوډېر اســــرار دی زه نه یم ملامت
زمری چي دچشمانودزلفانو ځنځیر پرې کي
په نیت کي دزړوښکاردی زه نه یم ملامت
صیاد چي دچشمانو دباڼو په غشي ښکارکړم
پــرزړه مــي جوړ پرهاردی زه نه یم ملامت
تصدیق مي په آزل کــي کي اقــرار عبدالکبیر
پــه شُــکر مـــي ګــفتار دی زه نه یم ملامت
قــلم چــي آزلــي مــاحُسنیار تــه عشق لیکلي
پــه دي کــي زما څه کار دی زه نه یم ملامت

شاعر : حاجي عبدالکبیر (حُسنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشاعرلنډه پیژندنه

### دلوي اومهربان خداي (ج) په سترنامه

حاجي عبدالکبیر (حُسنیار) دکندهار په اوله ناحیه کي دسرمعلم عبدالروف خان په کورني کي په ١٥١٢ ١٣٥٣ ورځ دنیاته سترګي لځي کړيدي ښاغلي حاجي حُسنیار خپلي دیني زدکړي دخرقې مطهرې په مسجد جامع کښي داستاد قاري عبدالشافع ترښووني لاندي کړي دي اودمکتب زدکړي يې دخپل پلار سرمعلیم عبدالروف خان ترښوونه لاندي په اول احمدشاهي مکتب کي تریولسم صنف پوري رسولي دي
تردي روسته دپاکستان اسلامي هیواد ته مهاجر سو اوعلمي زدکړي یې
نیم ګړي پاته سوې حُسنیارصاحب دخپل عمر داتم کال څخه شعر کوي اودخپل ژوند ډېر نیژدي ملګري اوخوږدوست یې بولي دحُسنیارصاحب شاعري تصوفي رنګ لري دفضل جام یې لمړي کتاب وو دوهم کتاب یې دسروري کائنات یادونه چي دلوي خدای (ج) په فضل ستاسي ترلاسونودر رسېدلي دي زه دلوي اومهربان خدای (ج) په دربار کي دادعا کوم چي الله (ج) دي زمږدګران اوپاك اسلام هرخدمت ګارته ډېر بریالیتوبونه ورنصیب کړي په خاصه توګه زمادګران رفیق
ښاغلي حاجي عبدالکبیر حُسنیار
په مینه مینه دل اغا هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرور کائنات(ص) یادونه



شیخه مه کوه پرمابانديګمان غلط
دمنبره څه را تاسه ته انسان غلط
داکه سکر خند پدل اوژړيدل دي
دشرابو قیمت مه بوله ایمان غلط
بیا دویس مجذوبه ژبه جانان ستایي
زه منکر د مجذوب بولم هر زمان غلط
منصورواره دي دداره نه بیریږم
دطریق دخراباته ستا بیان غلط
چي فتوا زما پرمحبت دګناه باسي
رشوت خوره داقاضي دی دسلطان غلط
حُسنیار یي پاکي میني پیش امام کړم
دقرآن منکر کافر دی په هرآن غلط

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**